# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۴۱۳ ګڼه / دوشنبه ۱۵ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۶ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۲۵ مارچ ۲۰۲٤ میلادي


اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:۱۱
سحـر: ٤:۲۳

## تر دې دمه ۲ میلیونه جریبه ځمکه له غصبه خلاصه شوې

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم په اساس د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د معین مولوي محمداسماعیل په مشرۍ یو ګډ هئیت د شمال زون له یو شمېر مسوولینو سره بلخ ولایت مقام کې د ځمکو په غصب کې د مالچرونو او عامه مرعي وو د غصب د مخنیوي او حل په موخه ناسته وکړه.په دې ناسته کې د سترې محکمې استازي شیخ عبدالصمد وویل، چې د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون دې غړو ته عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري ورته دنده سپارل شوې ترڅو د شمال زون په ولایتونو کې د ځمکو پر سر د قومونو او ولسونو ترمنځ رامنځته شوې ستونزې حل او د ځمکو د غصب د مخنیوي په موخه حل لارې ولټوي. ۳مخ

# له خصوصي سکټور سره د څلور میلیارده افغانیو تړونونه لاسلیک شول



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په شتون کې پرون د مالیې، اوبو او انرژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور ترمنځ د شاوخوا څلور میلیارده افغانیو په ارزښت د برېښنا د تولید او ساختماني چارو څلورو پروژو تړونونه لاسلیک شول.دغه پروژې د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۳ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، د هرات په ولایت کې د دوه سب سټېشنونو جوړول او د ۲۲۰کیلو ولټ برېښنا... ۳مخ

## چین د روغتیا برخه کې همکاري کوي



د عامې روغتیا سرپرست وزیر ډاکټر قلندر عباد د افغانستان لپاره د چین له سفیر ژاو شېنګ سره لیدنه کړې.

په دې لیدنه کې د جمهوریت روغتون د بیارغونې، د افغان ډاکټرانو د ظرفیت لوړونې، په روغتیایي برخه کې د پانګې اچونې، د کرونا او پولیو ناروغۍ د کنټرول او د دوارو هېوادونو تر منځ په غوره همغږۍ خبرې شوې دي.

د عامې روغتیا سرپرست وزیر د افغانستان او چېن هېواد ترمنځ اړیکې اړینې بللې او د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو همکاریو غوښتنه یې کړې.ډاکټر قلندر عباد همداراز د افغان روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې تر څنګ د بیارغونې په برخه کې د چین هېواد همکاري اړینه بللې او ویلي یې دي، موږ په افغانستان کې د روغتیا په برخه کې ډېره زیاته بشري... ۳مخ

## امارت اسلامی: به هیچ کس اجازه تجاوز به خاک افغانستان داده نمی‌شود

در نشست کمیسیون سیاسی امارت اسلامی افغانستان پیرامون انکشافات درکشور و منطقه، تحولات اخیر و روابط با جهان صحبت شد.ارگ در خبرنامه‌ی نوشته است:این نشست تحت ریاست مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا برگزار شد. در این نشست برعلاوه انکشافات کشور و منطقه، روی روابط امارت اسلامی جهان صحبت شد در این خصوص ارزیابی های صورت گرفت و اعضای کمیسیون برای پیشرفت بیشتر روابط، نظریات شان را شریک کردند.اعضای کمیسیون سیاسی همچنان از مناسبات سازنده امارت اسلامی با کشورهای همسایه یاد کردند و گفتند که حکومت افغانستان خواستار روابط مثبت با تمام کشورها است، اما به کسی اجازه تجاوز به خاک خود و نقض حاکمیت ملی را نمی‌دهد. گفتنی است که در نشست یادشده، در مورد برخی از موضوعات فیصله‌های لازم صورت گرفت.

## روسی ګرځندوی: له څلوېښت کلنو ناامنیو وروسته افغانستان ته بیاځلې راستون شوم



د اطلاعاتو او کلتور وزارت په خپل اېکس لیکلي چې اوو تنو روسي ګرځندویانو د هرات له تاریخي او تفریحي ځایونو لیدنه وکړه. د هرات ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست د ګرځندوی آمر مولوي رحمت‌الله محمدي وایي: سیلانیان کولای... ۳مخ

## کار ۴ پروژه در کابل تکمیل شد

شاروالی کابل، کار چهار پروژه ساخت سرک و کوچه را به مصرف مجموعی بیش از ۳۵ میلیون افغانی در مربوطات ناحیه چهاردهم شهر کابل تکمیل کرد. به گزارش آژانس باختر؛ این پروژه ها در ساحات قلعه وزیر، خواجه مسافر، قلعه آغرخان، فنایان و بخش های دیگر از پغمان مربوط به ناحیه چهاردهم با همکاری دفتر پروژه یی سازمان ملل متحد تکمیل و مورد استفاده قرار گرفت.



## هرات موزیم ته له ۵۰۰ ډېر لرغوني آثار سپارل شوي



د هرات د اطلاعاتو او کلتور ریاست مسوولین وایي چې د دغه ولایت د موزیم او آرشیف ته د تېرو دوو کلونو پرمهال له ۵۱۵ څخه زیات لرغوني آثار راټول او سپارل شوي دي.د دغه ولایت د موزیم او آرشیف عمومي مدیر عبدالجبار نورزي د باختر آژانس خبریال ته وویل:" په دوو کلونو کې د اسلامي امارت له لوري ۲۱۵ تاریخي آثار کشف او د هرات موزیم ته سپارل... ۳مخ

## سرمقاله

## معارف با کیفیت، کشور پر قدرت

روزچهارشنبه اول حمل ۱٤۰۳ هجری خورشیدی با نواختن زنگ مکتب، سال جدید تعلیمی آغاز شد. سرپرست وزارت معارف در برنامه‌ی نواختن زنگ مکتب در لیسه امانی شهر کابل تأکید کرد که این وزارت متعهد است تا به شهروندان کشور در دور دست‌های افغانستان و کودکان باز گشته از کشورهای همسایه، خدمات آموزشی معیاری و متوازن را فراهم کند، سرپرست وزارت معارف از خانواده‌ها نیز خواست که به دنبال آغاز سال نو تعلیمی، کودکان واجد شرایط را در مکاتب نام نویسی کنند، هم‌چنان روی نصاب تعلیمی نیز تماس گرفته گفت: نصاب آموزشی علوم عصری و دینی در کشور بی‌کیفیت است و با علوم بی‌کیفیت دست‌آورد نمی‌داشته باشیم، ما برای بهبود علوم عصری و دینی، تلاش می‌کنیم تا که با معیارهای جهانی همگام شویم.

زنگ مکاتب سردسیر در حالی نواخته می‌شود که فضا و زمینه آموزش در سراسر کشور برای فرزندان این سرزمین مساعد گردیده است که باید والدین فرزندان به ویژه آنانی‌که واجد شرایط مکتب اند، از این فرصت طلایی استفاده بهینه نمایند، زیرا افغانستان آن چنانی‌که باید در ردیف کشورهای توسعه یافته قرار می‌داشت، عقب گذاشته شده که دلیل آن هم ادامه جنگ‌های تحمیلی و تجاوز دو قدرت متجاوز در نیم قرن بر این کشور است.

اما حالا که به فضل خداوند عزوجل مردم افغانستان آزادی، استقلال و امنیت سراسری و مطمئن را تجربه می‌کنند، لازم است تا بیشتر از هر عرصه دیگر به معارف که زیربنای یک جامعه و کشور را تشکیل می‌دهد، توجه صورت گیرد.

بنابرین گزینه‌های که برای معارف کشور چون افغانستان مقدور است و باید انجام بگیرد، ارتقای سطح کیفیت آموزش، تغییر نصاب تعلیمی و زمان و یا هم دوره تحصیل، توجه یک‌سان به علوم دینی و عصری هم سطح در مدارس دینی و مکاتب، ایجاد مکاتب مسلکی و کورس‌های میان‌مدت و طویل‌مدت، گماشتن کادرهای متعهد علمی به مکاتب و پوهنتون‌ها و... است که با رویدست گرفتن این شاخص‌ها تا حدودی عقب‌مانی معارف کشور ان‌شاءالله جبران و نیازمندی‌های عصر حاضر جامعه ما نیز می‌تواند، مرفوع گردد.

## د پنجشېر کانونو ریاست نږدې ۷۰۰ زره ډالر عواید راټول کړي

د پنجشېر د کانونو او پټرولیم ریاست مسوولین وایي، چې یاد ریاست په تېر یوه کال کې ۳۶۲ زره ۹۷۷ ډالرعواید راټول کړي دي.د پنجشېرد کانونواو پټرولیم ریس مولوي محمد قاسم امیري د باخترآژانس خبریال ته ویلي، چې یاد ریاست په تېر۱۴۰۲ لمریز کال کې د زمردو د پلور د حق الامتیاز له درکه ۳۶۲ زره ۹۷۷ ډالر عواید راټول کړي او د دولت خزانې ته یې سپارلي دي.د یادونې وړ ده، چې همدا اوس په یاد ولایت کې پرڅه باندې د ۵۰۰ کانونو د استخراجولو چارې دوام لري.



## له درملنې وروسته د ۱۹ ماشومانو راستنېدنه



افغاني سرې میاشتې ټولنې افغانستان ته د هغو ۱۹ماشومانو د ستنېدو خبر ورکړی چې شپږ میاشتې مخکې جرمنې ته د درملنې لپاره لېږل شوي وو.یاد ماشومان د هډوکو په ناروغۍ اخته وو یا هم په اور سخت سوځېدلي وو او په افغانستان کې یې درملنه ناشونې وه.افغاني سرې میاشتې پر ایکس‌پاڼه لیکل شوي چې د جرمني د سولې کلي له خیریه بنسټ سره د شوې هوکړې له مخې، هر کال دوه ځلې په اور سخت سوځېدلي یا هم هغه ماشومان چې عمرونه یې تر ۱۱ کلونو پورې وي او هډوکي یې مکروب لري، د درملنې لپاره لېږل کېږي.دغو ماشومانو ته د جرمني د دې خیریه بنسټ له خوا درمل او هر یوه ته پنځوس- پنځوس یورو هم ورکړل شوې دي.


د کوشتپې نهر سلطاني ځمکو اصلي مستحقین څوک دي؟ ۲

د مدینې پر لور ۲

د پښتورګو سم کار نه کول ۲

خودکفایی محصولات زراعتی، بستگی به میکانیزه شدن زراعت دارد ۲

# د کوشتېپې نهر سلطاني ځمکو اصلي مستحقین څوک دي؟

**فاروق غلجي**



دا چې د کوشتېپې نهر کارونه اوس مهال د ځینو داخلي او خارجي غلیمانو له بدنیتۍ سره سره ښه په درز کې روان او تر ډېره پرمخ هم تللي، زیاترو هېوادوالو سره دا پوښتنه منځ ته راغلې چې د یاد نهر اړوند سلطاني ځمکو برخلیک به څرنګه شي ؟ څوک وایي ښایي د امارت مشران یې پر عوامو تقسیم نه کړي بلکې همداسې پرخپل حال یې پرېږدي څو دولتي فارمونه پکې جوړ او د حکومت اقتصادي مټ وربانـدې پیاوړې شي- د دې نظر مخالفین بیا وایي چې نا، حکومتونه ځي او راځي، خدای دې نه کړي سبا به حکومت د کومې بې دینه پردیپالې ډلې لاس ته ورغلی او همدا زموږ ودانې کړې ځمکې به پرخپلو ناولیو اندېوالانو ویشي. څوک وایي ورنږدي خلک یې ځانونه ډېر حقدار بولي نو کېدی شي پر هماغو تقسیم شي. خو ځینې نوربیا یوه بله ښه طرح لري او غوښتنه کوي چې باید اړونده سلطاني ځمکې پر دووبرخو وویشل شي: دولتی او خصوصي، دا په دې ډول چې دا نهر که له هر څومره ولسوالیو تیرېږي، هره یوه کې دې یوه یوه دولتي فارم ته څه ټاکلې اندازه ځمکه جلا کړی شي او پاتې دې نورو مستحقو هېوادوالو ته توزیع شي- دوی وایي د ځایي خلکو دا ګټه بس ده چې خپلو ورسره ځمکو ته به یې پرېمانه او به ورسیږي او د کوهیانو له احتیاجه به خلاص شي- پاتې شوه دا چې ښه نو مستحق څوک او چا ته لومړیتوب ورکړی شي؟ د دې لپاره باید څو درجې وټاکل شي: مثلاً لومړۍ درجه کې هغه کورنۍ چې پر هېوادیې د شوروي او صلیبي دواړو یرغلونو پر مهال شهیدان ورکړي یعنی هغه شهیدان چې دښمن سره په مقابله کې په شهادت رسېدلي، نه د هغوی په دوستي او ملګرتیا کې. دویمه درجه کې هغوی چې زندانونه یې تېر کړ، بیا هغوی چې ټپیان او معیوب شوي او بالآخره ورپسې هغه چې له دښمن سره یې کلکه مقابله کړې، ځورېدلي، کور کلي یې نړېدلی او شړل شوي دي- د دې نظر پلویان ټینګار کوي چې که د وېش لپاره همدغه اصول ومنل شي له یوې خوا به چاته د ګیلې څه ځای نه وي پاتې، ځکه هر څوک چې د همدې اصل پر اساس حقدار وپېژندل شو خپله برخه به تر لاسه کوي او د سمت او قوم د پالنې کومه ګیله به منځ ته نه راځي، له بلې خوا به د هېواد یوه سرحدي سیمه کې تجربه شوي هېواد پالونکي- وطن ساتونکي خلک اباد شوي وي چې هیله ده راتلونکې لپاره هم د خپل هېواد په ژغورنه کې مثبت رول ولوبوي. ګورو به چې د امارت مشران د چارایې ته ترجیح ورکوي.

# د مـدینې پـر لـور

**دویمه برخه / لیکوال: سید ابوالحسن ندوي رحمه الله / ژباړن: محمدصادق طارق**

د مطالعې پر مهال مې عجیب خوند احساس کړ دا خوند د ماشومتوب له نورو خوندونو څخه بیل ؤ (زه تل له تیز حس او قوي فهم څخه برخمن وم) دا خوند نه د لوبې پر مهال د خوندورو خوړو خوند ته، نه د اختر په ورځ د نویو جامو اغوستلو خوند ته، نه د لوبو او سات تیرولو خوند ته، نه له یوې اوږدې مودې کار کولو او ستړیا ګاللو وروسته د تعطیلۍ خوند ته او نه د زاړه ملګري یا قدرمن میلمه د لیدلو خوند ته ورته دی. دا خوند او لذت په یادو خوندونو کې له هېڅ خوند سره مشابهت نلري. هوکې! داسې خوند دی چې په طعم یې پوهېږم خو له توصیف کولو څخه یې عاجز یم او دا منم چې نه شم کولای په کره ډول یې تعریف کړم او یا یې د کلماتو په مټ تعبیر کړم. نهایتاً داسې ویلای شم چې دا لذت روحي لذت دی. مګر ماشومان ارواوې نلري او روحي لذت نه احساسوي؟ قسم په خدای چې ماشومان که څه هم په تعبیر کې عاجز دي خو د نورو په پرتله له شفافو اروااوو او صحیح درک څخه برخمن دي.

یاد کتاب کې مې د قریش قبیلې د هغو کسانو کیسې لوستې چې د اسلام په دین به مشرف او د رنګارنګ تعذیبونو سره به لاس او ګریوان شول خو هغوی به دا ټول تعذیبونه په صبر او زغم نه، بلکې په خوند او خوشحالۍ منل. زه د هغوی له کیسو لوستلو وروسته پوه شوم چې په نړۍ کې داسې لذت شتون لري چې ډېر د زر او زور خاوندان او هغه کسان چې ځانونه په ژوند کې نیکمرغه بولي ورنه بې خبر پاتې دي. هغه خوند عبارت دی له دې څخه چې انسان د حق په لار کې وډېول شي، د عقیدې په خاطر وځورول شي او د دعوت له امله له اهانت سره مخ شي.

هېڅ رنګ واک، تسلط او حکومت به له یاد لذت سره برابر نه شي. زړه مې غوښتل چې کاش زه هم په همدې کرامت او لذت -حتی په ژوند کې د یو ځل لپاره- مشرف شوی وای.

همدا راز مې د مصعب بن عمیر کیسه چې په ښو جامو اغوستلو، ښه ژوند تیرولو او د ژوند په غرور کې د قریش ځوانانو مقتدی ؤ په یاد کتاب کې ولوستل؛ هغه چې د قریش د نازولو ځوانانو په ډله کې یو نازولی ځوان ؤ په داسې جامو کې به د مکې په کوڅو کې راښکاره شو چې سل درهمه یې قیمت ؤ کله چې به د ځوانانو سترګې پرې ولګیدې تر شا به یې روان شول او دا خبره به په ټول ښار کې خپره شوه. خو کله چې مسلمان شو او لاس یې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لاس کې کېښود مرفّه ژوند ته یې شا کړه، ساده ژوند یې غوره کړ او د ضخیمو کالو په اغوستلو یې پیل وکړ ډېر کله به له داسې حالت سره مخ شو چې د تنیو (دکمو) پر ځای به یې د ونو لرګي کارول، کله چې به رسول الله صلی الله علیه و سلم دا حالت ولید سترګو کې به یې اوښکې ډنډې شوی او د مصعب پخوانې ژوند به یې ذهن کې تېر شو.

د قریشو دا اتل ځوان د بدر په غزا کې په داسې حالت کې شهید شو چې د کفن لپاره یې تر یوې لنډې پارچې پورته نور څه نه لرل؛ که یې سر پرې پټ کړی وای پښې به یې لوڅې شوی او که یې پښې پرې پټې کړي وای سر به یې لوڅ پاتې شو. رسول الله صلی الله علیه و سلم امر وکړ چې سر دې یې پټ کړل شي او پر پښو دې ورته د «اذخر» پاڼې واچول شي.

دې کیسې مې زړه او روح له ځان سره یوړل او پوه شوم چې له مرفّه ژوند، قیمتي جامو، خوندورو خوړو او مجللو ماڼیو پرته داسې اړتیا او لذت شته چې د قدرت او ثروت د خاوندانو همت ورته رسیدلای نه شي او د شهوت پرستانو عقل یې درک کولای نه شي.

کله چې ځان ته راغبرګ شوم پوه شوم چې زړه مې د همدې خوند او اړتیا احساس لري او دې حقیقت ته د شتمنو تر قیمتي جامو او د دنیا تر بې ارزښته مظاهرو زیات وصلت لټوي. **نور بیا** ...

# خودکفایی محصولات زراعتی، بستگی به میکانیزه شدن زراعت دارد

**نوری**

ششم حمل مطابق به۲۵مارچ، روزجهانی دهقان است که این روزدراکثرکشورهای جهان طی مراسم خاص برگزارمیشود. درافغانستان هم با شیوه خاص خودش تدویر می‌گردد. دهقانان ازهزاران سال به این طرف کاربسیارارزشمند را که کشت گندم و دیگر حبوبات است اشتغال دارند. درشروع هربهار در افغانستان جشن دهقان برگزارمی‌شود که این همایش ازطرف شاروالی‌ها و وزارت زراعت، آبیاری و مالداری حمایت می‌شود. همه ما مرهون فداکاری وزحمتکشی دهقانان هستیم که برای ما گندم و دیگر حبوبات تهیه می‌کنند وسپس به نان مبدل می‌شود. بیشتر مواد غذایی انسان ها از طریق زراعت تامین می شود. پس برای امرار معاش و زندگی به سبک سالم تری نیاز به صنعت و سکتور میکانیزه زراعتی داریم. در واقع زراعت نقش زیادی در توسعه و اقتصاد کشور دارد. هر گونه اختلال و ایجاد مشکلی در روند سکتور زراعت، ارتباط مستقیمی با به خطر افتادن امنیت غذایی آن کشور دارد. به همین دلیل امروزه توجه زیادی به تولیدات و محصولات زراعت می‌شود. پس برای ایجاد و تولید محصولات غذایی سالم و گسترده باید برنامه ریزی های مستمری صورت بگیرد. بیشتر واردات کشور در سال های اخیر مربوط به گندم، جواری، برنج، آرد و ... بوده است. صدها میلیون دالر در این سال ها صرف واردات این محصولات شده است. اگر تنها بخشی از این پول ها به بهبود روش های تولید، اصلاح تخم‌های بذری و ...صرف شود، نه تنها باعث اشتغال پایدارتر و نتیجه بهتر در تولید زراعت در کشور می شود، بل زراعت ما می‌تواند نقش بسزایی در توسعه اقتصادی کشور نیز داشته باشد. کشورما دارای تنوع آب و هوایی خوبی است. این موضوع تاثیر بخصوصی در رشد و عملکرد بهتر محصولات زراعتی دارد. نیروی کار و نیروی تحصیلکرده در علم زراعت می توانند تاثیر زیادی بر اقتصاد کشور داشته باشد. قطعاً صنعت زراعت دارای مشکلات زیادی است. هنوز مشکلات مربوط به این شغل برطرف نشده است. کمبود آب، تولید محصولات غیر ارگانیک، استفاده از مواد کیمیایی و ... از جمله مشکلاتی است که باید رسیدگی بیشتری به آنها شود. مثلاً برای صرفه جویی در آب باید از لوازم و تجهیزات بیشتری در همه ی مزارع زراعت استفاده شود. به کارگیری نلها و اتصالات زراعت از جمله این موارد هستند. مشکلات پس از تولید نیز مهم ترین و بیشترین مشکلات دهقانان و باغداران است. این موضوع مرتبط به بازاریابی در زراعت می شود. اقتصاد مقاوم و برنامه ریزی های صحیح و مناسبی برای بازاریابی در زراعت وجود ندارد. اگر این مشکل برطرف شود، تولیدات هم بیشتر خواهد شد. کشاورزان بدون دغدغه فکری و ذهنی برای فروش محصولات خود به کار خود ادامه می دهند. بازاریابی محصولات زراعی مرتبط با بخش صادرات هم از مهم ترین روش های پیشرفت در توسعه زراعت است. برای اینکه صادرات این محصولات به صورت قوی و منظم صورت بگیرد نیاز به بازاریابی دقیق و مستمر است. نهاد های نظارتی دقیقی برای رفع این مشکل وجود ندارد. هیچ گونه ارتباط نزدیک و هماهنگ شده یی بین تولید کنندگان و صادرکنندگان وجود ندارد. همه این مسائل باعث بروز مشکلات تولید و اقتصاد زراعت در جامعه امروز شده است. افغانستان باوجوداینکه یک کشورزراعتی است تابه حال نتوانسته که درزمینه کشت گندم،برنج وجواری خودکفاشود،بدبختانه که هرسال میلیون‌ها تن گندم وآرد ازخارج وارد می‌شود واسعارزیادی از کشورخارج شده که باعث بی‌ثباتی افغانی می‌شود. مسئولین وزارت زراعت واموراقتصادی وتجارتی یک روش مدرن رامروج سازند که مقدارتولیدات زراعتی افزایش یابد که کشورما دربخش غله خودکفا شود و اسعار از کشورخارج نه شود. به راه انداختن پروژه قوشتیپه یک اقدام بسیارحیاتی در راستای زراعت شمرده می‌شود.درتمام ولا یات باید چنین پروژه ها عملی شود، که طی چند سال آینده درزمینه تولید غله به خود کفایی برسیم.



# د پښتورګو سم کار نه کول

**لیکنه: ډاکټر زاهد نایل**

ناروغي یو دم نه پیدا کېږي، مخکې ترې ځینې نښې نښانې یا اعراض او علایم څرګندېږي.

اعراض ناروغ خپله هم محسوسولی شي او علایم د ډاکټر کار دی د خپلې طبي پوهې او مربوطو معایناتو په ذریعه یې معلومولی شي.

هغه څه چې موږ پورې اړه لري، هغه د یوې ناروغۍ د ابتدایي مرحلې حالت دی چې باید پاملرنه ورته وکړو. په دې لړ کې یوه عمده ناروغۍ د پښتورګو ده چې اعراضو ته یې پر وخت د نه پاملرنې له امله پښتورګي په عدم کفایه اخته کېږي؛ یعنې سم کار نه کوي او ان په بشپړه توګه ناکامېږي چې هغه وخت بیا په ډېرو امکاناتو هم موږ خپله د پښتورګو روغتیا بېرته نشو راګرځولی.

د دې لپاره چې د پښتورګو ناروغي مو پرمختللي سټېج ته داخله نشي چې بیا یې درملنه سختېږي، بالاخره پښتورګي مکمل کار پرېږدي او پایله یې مړینه ده، نو ځینې نښې نښانې او حالتونه شته چې موږ ته د پښتورګو د ناروغۍ په اړه ښکاره د خطر زنګ دی چې باید پاملرنه ورته وشي او په اړه یې لازم اقدامات وکړو.

۱ـ د تشو متیازو تغیر:

له رنګ او بوی نیولې، د تشو متیازو په فریکوینسي او کېدلو کې تغیرات؛ د دې نښه ده چې پښتورګي خپله نورمال دنده په سالمه توګه پر مخ نه وړي.

۲ـ کمزوري او ستړتیا:

پښتورګي د ایریتروپویټین په نوم هرمون تولیدوي چې دنده یې د وینې د سرو کرویاتو جوړول دي. کله چې پښتورګي سم کار نه کوي نو د دغه هرمون تولید کمېږي چې بیا د سرو کرویاتو د کمښت له وجې د وینې په جریان او د هیموګلوبین (د سرو حجرو د اوسپنې او پروتین ترکېبي ماده چې دنده یې د بدن انسجاو ته د اکسیجن تهیه کول دي) په اندازه/ دنده اثر کېږي او په کافي مقدار د اکسین د نشتون له وجې په فزیکي او دماغي توګه ستړیا محسوسوو.

نو بناً پرته له څه کار کولو که داسې کمزوري یا ستړیا لرئ، یو لامل یې د پښتورګو دغه حالت دی.

۳ـ نفس تنګي:

ساه اخیستلو کې سختي یا نفس تنګي دوه لوی عوامل لري یو دا چې سږیو کې به اوبه راغونډې شوې وي، بل یې کمخوني چې له کبله یې وجود کې اکیسجن کمېږي. دا دواړه د پښتورګو د سم کار نه کولو له امله دي.

۴ـ وچ او خارښت کوونکی پوستکی:

کله چې پښتورګي په وجود کې د مغذي موادو او منرالونو د توازن په آرام ساتلو کې پاتې راشي نو د پوستکي وچوالی او خارښت د دغه حالت زېږنده ده.

۵ـ د سترګو پړسوب:

د سترګو پړسوب یو له هغو لومړنیو حالتونو څخه دی چې د پښتورګو د روغتیا مخ په ځوړ وضعیت ښیي.

۶ـ د ملا درد:

پښتورګي چې کله د سم کار نه کولو حد ته رسیږي نو له کبله یې په ملا کې داسې غیر معمول درد پیدا کیږي چې له نورو عضلاتي او هډوکینو دردونو سره ښکاره فرق لري.

۷ـ د خولې بدبویي او فلزي خوند:

د پښتورګو یوه دنده د وینې فلټر کول دي. کله چې دغه دنده د ناروغي له امله په درست شکل سرته نه رسي، نو په وینه کې ډېری خراب مواد او زهریات (Toxins) وي چې دا بیا د خولې د بدبویي سبب کېږي، خو دغه بدبویي له هلېټوسیس (د خوسا هګۍ په رقم بدبویي) سره توپیر لري.

بل د خولې فلزي خوند دی، دا ګڼ سببونه لري، خو که له مربوطه تداوي سره بیا هم ورک نشو نو دا بیا د پښتورګو د سم کار نه کولو نښه ده.

۸ـ خوب کې ستونزه یا بې خوبي:

کله چې پښتورګي خپله دنده په نورمال شکل نه ترسره کوي نو زهریله او خراب مواد چې د پښتورګو په ذریعه د امتیازو جریان له لارې، وجود نه بهر وځي، په بدن کې پاتې کېږي. دا بیا د مربوطه مېکانیزم له مخې د خوب راتلل سختوي او بې خوبي منځ ته راوړي.

۹ـ د وینې لوړ فشار:

په تدریجي توګه چې د بدن د وینې رګونه کمزوري او تخریب شي نو په لومړیو کې د پښتورګو حجراتو ته مغذي مواد او اکسیجن په کافي اندازه نه رسیږي چې دا بیا د وینې د لوړ فشار باعث ګرځي، چې بالاخره د سکتې ناڅاپي مړینې لامل هم کېدای شي چې له همدې امله د وینې لوړ فشار ته Silent Killer یعنې خاموش وژونکی وایي.

۱۰ـ پړسیدلي ښنګري، پښې او لاسونه:

د پښتورګو د سم کار نه کولو له وجې د وجود د مایعاتو او مالګې توازن هم خرابېږي، نو د بدن په بېلابېلو برخو کې سودیم او اضافه مایعات راټولېږي چې دا بیا په عمده توګه د لاسونو، پښو او ښنګرو د پړسوب لامل کېږي چې ښه واضح دډ ښکاري.

# تبلیغاتي جګړه؛ ځینې هېوادونه هڅه کوي ځینې نورو ترمنځ تفرقه را منځته کړي

مسکو کې وروستي ترهګریز برید او بېلابېلو اړخونو یې وښودله، چې دښمن څومره سیستماتیک مخکې ځي او هڅه کوي د هېوادونو ترمنځ تفرقه رامنځته کړي او اړیکې یې خرابې کړي. دښمن په ځانګړې توګه لوېدیځ هڅه کوي د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره له ځینو ترهګریزو کړیو څخه په استفادې د یو هېواد اړیکې له بل هغه سره له منځه یوسي او یا یې هم کمزورې کړي، چې دا د منافقت لویه لومه ده، چې تر هدف لاندې هېوادونه یې باید پر وړاندې هوښیار پاتې شي.
د مسکو تر برید وروسته د لوېدیځ لاسپوڅو رسنیو، غلامانو او نورو کړیو هڅې او تبلیغ پیل کړ، چې دغه برید کې ځینې هېوادونه ښکېل وګڼي او په دې سره د روسیې او نړۍ ترمنځ اړیکې پیکه کړي. امریکا او ځینې نور ملګري هېوادونه یې د ځینو نورو هېوادونو لکه افغانستان پر وړاندې پوځي ډګر کې پاتې راغلي او اوس هڅه کوي، چې د تبلیغاتي جګړو او منافقتونو له لارې خپل اهداف تعقیب کړي. ځینو بهر مېشتو رسنیو او د اسلامي امارت مخالفینو له بهر څخه شروع وکړه، چې ګواکې ورته بریدونه په افغانستان کې طرحه کېږي او له دې سره غواړي، چې افغانستان په نړۍ کې بدنام کړي. خو له دې نه دي خبر، چې پوتین خپله د کا جي بي غړی پاتې شوی او ټول چارواکي یې ښه پوهېږي، چې برید څوک کوي او د څه لپاره یې کوي، اړتیا نه شته چې نور هېوادونه او اشخاص معلومات ورکړي. روسي چارواکو دغو خلکو ته چې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو خرابولو هڅې کوي، مناسب ځواب ورکړ.
واشنګټن کې د روسیې سفیر وویل، چې دغه ډول بریدونه به پوتین په تګلارو او پالیسیو کې هېڅ بدلون رانه ولي او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره به لا سخت کار وکړي. نو باید وویل شي، چې افغانستان امن دی او له دې ځایه به د نړۍ هېڅ هېواد و نه ګواښل شي او د نړۍ هغه هېوادونه چې غواړي له افغانستان سره ښې اړیکې ولري، باید پوه شي، چې دښمن یې یو دی او دغه دښمن هڅه کوي ترڅو له افغانستان سره د ښو اړیکو د رامنځته کولو مخه ونیسي.

**تبصره**

## هرات موزیم ته له ۵۰۰ ډېر لرغوني...

شوي او همدرانګه له ۳۰۰ څخه زیات نور تاریخي آثار د فرهنګ مینه والو له خوا دغه موزیم ته ډالۍ شوي دي". نوموړي دغه راز له مرکزي چارواکو وغوښتل چې دغه تاریخي آثار بېرته ورغوي او ننداري ته یې وړاندې کړي. د یادونې وړ ده، چې د هرات موزیم او آرشیف د دغه ولایت د اخترالدین په کلا (ارګ) کې موقعیت لري او له سل کاله وړاندې پرانیستل شوی، چې هغه مهال یې د ننوتلو بیه یوه سکه وه او د عجب خانې په نوم هم یادېده.

## آغاز کار پنج بند ذخیروی...

ولسوالی‌های تروه، وازیخواه، خیرکوت، نکه و چهاربران ولایت پکتیکا، ساخته می‌شود. هزینه ساخت پروژه‌های یادشده از سوی وزارت آب و انرژی پرداخت می‌شود. ارزیابی‌های وزارت آب و انرژی نشان می‌دهد که با تطبیق این پروژه‌ها بیش از ۴۲ هزار متر مکعب آب ذخیره خواهد شد. در خبرنامه آمده که هدف از ایجاد بندهای یادشده مدیریت آب‌های سرزمینی و تقویت آب‌های زیر زمینی است. گفتنی‌است که بندهای ذخیروی آب در هر ولسوالی کشور در سال‌جاری ساخته خواهد شد.

## چین د روغتیا برخه کې همکاري...

قوه لرو او اړتیا ده د ظرفیت لوړونې لپاره یې کار وشي. د افغانستان لپاره د چین هېواد سفیر د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزه همکاري اړینه بللې او په روغتیایي برخه کې یې د همکارۍ ډاډ څرګند کړی دی.

## د فراه ښاروالی ریاست عوایدو کې...

کېدو خبرهم ورکړی دی، همدارنګه زیاته یې کړه چې د اسلامي امارت په راتګ سره په یاد ولایت کې د مسوولینو له لوري نه یوازې پراختیایي پروژې پلي کېږي، بلکې په ورځنیو چارو کې له بشپړې روڼتیا څخه هم کاراخیستل شوی دی.

## کمر بند سبز در ساحه بند قرغه ...

ساحه متذکره به یک ساحه تفریحی مناسب و زیبا مبدل خواهد شد. وی افزود که برای توسعه سرسبزی و شکوفایی شهرکابل، ریاست سرسبزی برنامه های متعددی دارد که در مراحل مختلف به آن اقدام خواهد شد که یکی آن توسعه و گسترش سرسبزی کمر بند سبز در ساحه قرغه است. او خاطر نشان کرد که از آغاز کارزار بهار ۱۴۰۳ تاکنون بیش از ۵ هزار اصله نهال در این مکان غرس شد است و جهت حفظ و مراقبت بهتر نهال های غرس شده راهکارهای مناسب نیز عملی می شود.

## د پوهنې د لا پیاوړتیا...

چې ښه بېلګه یې د پوهنې په ډګر کې یو له بل سره مرسته ده. د نوموړي په وینا چې افغانستان باندې وروسته له ډېرو سختو ورځو داسې وخت راغلی، چې په نړیوال سټیج هغې برخې ته ځان ورسوي، چې باید و اوسي. ښاغلي سفیر د کندهار وروستۍ خونړۍ پېښې باندې خواشیني څرګنده کړه او په غزه کې یې د ناوړه حالت د ودرېدلو غوښتنه هم وکړه. د ترکیې د پوهنې بنسټ متولي پلاوي نیوزاد شیم شیک وویل، چې نه یوازې دې نسل ته ښوونه او روزنه ورکوو، بلکې د بشري سرچینو په استخدام کې هم رغنده رول لرو. هغه د افغان ترک ښوونځیو فارغ محصیلینو ته په اشارې وویل، چې تاسې د دې سربېره چې په افغانستان کې لوړې زدکړې کوئ، په ترکیه او د ترکیې دوستو هیوادونو کې هم درته د لوړو زدکړو زمینه مساعدوو. نوموړي له هغو زدکوونکو (چې د زدکړو لپاره ترکیې ته ځي) څخه غوښتنه وکړه، چې وروسته د زدکړو له خلاصېدو باید خپل هیواد ته راشي او خپلو خلکو ته خدمت وکړي. هغه دا هم و ویل چې افغانانو په خپل وخت کې له ترکانو سره مرستې کړې دي او اوس به موږ خپلې مرستې په هره برخه کې له افغانستان سره روانې ساتو. د افغانستان د پوهنې وزارت مرستیال صبغت الله وصیل هم غونډه کې وینا واوروله، هغه د ترکیې د پوهنې په برخه کې کارونه وستایل، خو ویې ویل چې په افغانستان کې د دغه برخې څومره ښوونځي، تعمیرونه او خدمات دي، ټول مصرف یې زموږ د پوهنې وزارت په ورین تندي ورکوي. نوموړي د احمدشابابا وخت ته اشاره وکړه او ویې ویلې چې افغانستان یو وخت د پوهې تولیدونکی هېواد و، د نړۍ د مظلومو هېوادونو ورته سترګې وې، خو د ځوکلن اشغال له وجې مو د پوهنې په ګډون زیات سیستمونو زیانونه لیدلي دي. وصیل زیاته کړه چې موږه په راتلونکي کې د نمونه‌یي ښونځیو د جوړولو پلان لرو او د ترکیې هېواد مرسته پکې غواړو. دۀ همدارنګه د ترکیې هېواد په افغانستان کې دغو ښوونځو ته په اشارې و ویلې، چې ځینې هیوادونه په نورو هېوادونو کې فقط خپل ترجمنان روزلي دي او د ترکیې له هېواده یې په بنسټیزو کارونو کې د مخته تګ هیله وښودله. هغه په اخره کې دا هم و ویلې: بنیاد معارف ترکیه سره مخکې مونږ داسې تفاهم نامې لیدلې دي، چې د هغې له رویه داسې برنامې وې، چې اوس پاتې شوې دي، مثلا د استادانو تربیه، ارتقا ظرفیت او داسې نور څه، چې په کابل کې به دایرېدلې، موږ د ترکیې له سفیره هیله لرو چې دغه برنامې دې بیا پیل کړي. دغه مراسمو کې د افغانستان د ځینو مسوولینو ترڅنګ د ازربایجان هېواد سفیر هم ګډون کړی و. د یادونې وړ ده، چې ترکیه د نړۍ په ۵۲ هېوادونو کې ۴ سوه او ۱۷ تعلیمي مرکزونه او ۵۲ زره زدکوونکي لري، چې د ښوونځیو د شمېر له اړخه افغانستان دویم هېواد دی، چې ترکیه پکې خپل زیات تعلیمي مرکزونه لري، چې شمېر یې ۴۵ ته رسېږي.

**تاج محمد بهار**

## تر دې دمه ۲ میلیونه جریبه ځمکه...

ورته مهال د عدلیې وزارت د امارت قضایاوو عمومي رئیس او د کمېسیون سکرتریت مولوي احسان الله وثیق په شمال زون کې د ټولو هغو مسوولینو څخه مننه وکړه، چې د غصب د مخنیوي او د ستونزو د حل په موخه یې هر ډول سختو شرایطو کې پوره خواري کړې او په دې برخه کې یې د ولس او امارت سره همکاري کړې ده.
مولوي احسان الله وثیق زیاته کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د راتګ څخه تراوسه پورې ۲ میلیونه جریبه ځمکه له غصب څخه خلاصه شوې، ۵۰۰ میلیونه افغانۍ، ۲۹ میلیونه ډالر او ۹ میلیونه یورو اسلامي امارت لخوا راګرځول شوې او بیت المال ته سپارل شوې دي. په همدې حال کې د بلخ والي حاجي محمدیوسف وفا وویل:« په شمال زون په ځانګړې توګه بلخ ولایت کې مالچرونو او غصب شویو ځمکو په زیات شمېر مشکلات جوړ کړي، چې ځیني وختونه د دې ستونزو له امله د ولسونو ترمنځ ستونزې هم رامنځته کېږي، چې باید د دې د حل په موخه یې جدي کار وشي.»په ناسته کې د بلخ والي په ګډون ټولو راغلیو د ۹ولایتونو مسوولینو په نوبت سره خپل نظرونه، مشورې او پیشنهادات د عامه مرعي د غصب او د غصب څخه د مخنیوي په موخه شریک کړل.

## روز جهانی توبرکلوز؛ مرگ روزانه...

گزارش‌ها حاکی از آن است که شمار مبتلایان به بیماری سل در جهان برای نخستین بار پس از ۲۰ سال، روند افزایشی پیدا کرده که دلیل آن فقر، غفلت و کمبود بودجه عنوان شده است. ۲۴ مارچ، روزجهانی بیماری سل نام‌گذاری شده است. کارشناسان پزشکی در مورد علایم توبرکلوز می‌گویند: علایم این بیماری شامل سرفه‌ی زیاد همراه با بلغم از حلق است. هر فردی که این علایم را دارد و یا نسبت به ابتلای به این بیماری مشکوک است باید برای تشخیص و مداوا به مراکز صحی مراجعه کند. اگر بیماری توبرکلوز به موقع تشخیص داده شود، امکان مداوای آن وجود دارد.

## له خصوصي سکټور سره د څلور میلیارده...

مزي غځول، کابل ښار کوټې سنګي ساحه کې د سوداګریز مارکېټ او هلمند کې د سوداګریز مرکز او استوګنې اپارتمانونو جوړول دي. پر دې پروژو شاوخوا څلور میلیارده افغانۍ پانګونه کېږي، چې په عملي کېدو سره به یې د هېواد د ملي عوایدو په کچه کې زیاتوالی راشي او سلګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه برابر شي. د یادونې وړ ده، چې د پانګونې دغه پروژې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې او اړوندو ادارو په هلو ځلو سره عملي بڼه پیدا کړې.

## له څلوېښت کلنو نا امنیو وروسته...

شي په ارام زړه دې ولایت ته سفر وکړي او د تاریخي او سیاحتي ځایونو له لیدو خوند واخلي. ښاغلی محمدي زیاتوي چې د هرات د اطلاعاتو او کلتور ریاست سېلانیانو ته د اسانتیاوو د رامنځته کولو په هڅه کې دی. د سیلانیانو له ډلې نکراسوف وویل: ۴۰ کاله وړاندې افغانستان ته راغلی وم، خو له ۴۰ کلنو ناامنیو وروسته ونه توانېدم چې بیاځلې افغانستان ته راوګرځم. نوموړی زیاتوي: اوس چې اسلامي امارت پر افغانستان واکمن دی، نو امنیت د ډاډ وړ او پرته له کومې وېرې افغانستان ته راغلم. ښاغلی نکراسوف وایي چې خوښ دی افغانستان ته راغلی او د دغه هیواد له بېلابېلو تاریخي ځایونو لیدنه کوي. یاده دې شي چې د هرات د ګرځندوی امریت وایي چې د تېر کال په پرتله دې ولایت ته د سېلانیانو په راتګ کې ۶۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی.


# افغان اعلانات

**اعلان داوطلبی**

اداره نوی کابل بانک پروژه شماره NKB/NCB/24/ 05-OP تهیه وتدارک یکپایه جنراتورجدید (٤٠٠kva) مورد ضرورت خویش را با مشخصات ذیل به اعلان داوطلبی باز داخلی می سپارد .
Diesel power generator
Standby power 400kva /320kw
Prime power 350kva/280kw
volts 230-volt/ 400 415-380
3PH 50HZ
Power factor 0.8
1500RPM
Water fuel separator
Sound attenuated and weather protective enclosure
Water jacket heater
Battery Charger
بنـاً این بانک از داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید که در پروسه داوطلبی فوق اشتراک نموده و کاپی شرطنامه را از مدیریت عمومی خدمات وتدارکات بانک بدست آورند، همچنان آفرهای خویش را مطابق شرایط شرطنامه وطبق قانون و طرزالعمل تدارکات افغانستان طورسربسته الی ساعت ۱۰:۰۰قبل از ظهر مورخ ۰۲/۰۲/۱٤۰۳ به مدیریت عمومی خدمات و تدارکات دفترمرکزی نوی کابل بانک واقع شهر نو طره باز خان وات کابل ارایه نمایند ، آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.
۱. جلسه قبل از آفر گشائی بتاریخ (۱۸/۰۱/۱٤۰۳) برگزار میگردد .
۲. جلسه آفرگشائی روز یکشنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۰۲/۰۲/۱٤۰۳ در مدیریت عمومی خدمات برگزار میگردد
آدرس الکترونیکی : enayat.ib@newkabulbank.af و kazim.ahmadi@newkabulbank.af))

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم سادات احمدزی لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۵۸۹- ۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای انتظار احمد فرزند محمد ایوب بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۱

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شاه محمد فرزند نور احمد یک عراده موتر پلیت ۸۷۴۹۴-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای شاه محمد فرزند نور احمد بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۵۰

***

**اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات**

اسامی محترم قدرت الله فرزند احمد جان ولدیت محمد جان دارنده جواز نمبر ( ۴۰۳۳ ) مورخ ۱۲/۱۵ / ۱۴۰۰ متصدی رهنمای معاملات ( قدرت الله کاروان) واقع ( موتر فروشی های سر کوتل ) ناحیه ( ۱۷ ) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند.۳۴

***

**اطلاعیه تغییر اسم دواخانه**

محترم محمد صابر صافی فرزند عبدالرزاق ولدیت عبدالروف دارنده تذکره نمبر ( ۶۲۱۶۴- ۱۲۰۲- ۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت پروان مالک امتیاز دواخانه اختری واقع ناحیه یازدهم ولایت پروان عنوانی این اداره عارض و خواهان تغییر اسم دواخانه خویش از اختری به اسم صابر صافی گردیده است .
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت سه روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۵۱

***

**اطلاعیه جایداد**

به اساس قرار قضایی نمبر ۸۱۹ بر ۶۱۹ مورخ ۱۴۴۵/۸/۱۱ ه ق مصدوریه ریاست محترم دیوان مدنی محکمه ابتدائیه حوزه چهارم شهر کابل قرار است .
جایداد نمبر (۲۰۲۰۶) موقعیت حصه سوم خیر خانه مینه به مساحت ۲۰۰ متر مربع مندرج قباله شرعی نمبر ( ۵۸۵ بر ۲۳۴۵) مورخ ۱۳۹۰/۷/۱۱ ه ش اسمی عبدالجبار فرزند سکندر از طریق پروسه مزایده و داوطلبی به فروش برسد.
اشخاص و افرادی که خواهان خرید جایداد متذکره از طریق پروسه داوطلبی و مزایده می باشند بعد از نشر اعلان الی مدت ۸ یوم رسمیات در خواستی های خویش را به ریاست حقوق کابل بسپارند شرطنامه را ملاحظه و تضمین نقد اخذ میگردد و از مالک جایداد متذکره تقاضا به عمل می آید تا در مجلس داوطلبی حاضر باشند در غیر آن جایداد متذکره در غیاب شان به فروش میرسد و آنگاه حق شکایت را نخواهید داشت.۴۰

DACAAR

**اعــــــلان داوطلبی مؤسسه داکار**

مؤسسه خیریه داکار (اعلان داوطلبی تهیه نهال برای پروگرام داکار پروژه UNODC در ولایت ننگرهار و لغمان) را در پروسه ذیل به داو طلبی میگذارد. لهذا از تمام علاقمندان واجد شرایط تقاضا بعمل میاید تا آفر های سربسته شانرا قبل از معیاد تعین شده به دفتر مرکزی داکار بسپارند.

DACAAR ITB 07 PRF-222 to 227/UNODC/2208-LFA/LFA2.14/NRM/03.2024
(داوطلبی برای تهیه نهال برای پرگرام داکار درولایت ننگرهار و لغمان)
بناً ازمتقاضیان محترم خواهشمندیم تا آفرهای اعلان داوطلبی باید الی تاریخ 29 مارچ 2024 مطابق 10 حمل 1 ساعت 4:00 عصر به شعبه لوجستیک دفتر مرکزی مؤسسه داکار واقع پروژه تایمنی، پایکوب نصوار، سرک 12 قلعه فتح الله، ولایت کابل بسپارند.

فورم قیمت گذاری و اعلان داوطلبی را از صفحات انترنیتی ذیل میتوانید بدست آورید:
www.Dacaar.org
www.Acbar.org
نمبر تیلفون: 0093202201750

Shariat Daily


شريعت
د ليکوال هيئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
م محمد ابراهيم نبيل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شريعت برېښنا ليک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزيع و شکايات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦ / ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ويب سايت: WWW.shariatdaily.com

Monday 25 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 413


### مولوي عبدالسلام حنفي:

# د ټولنيزې هوساينې لپاره دې زياتې هڅې وشي



د رياست الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي د غور له والي ملا احمدشاه دين‌دوست او د دې ولايت له يو شمېر مجاهدينو او ډاکټرانو سره ليدنه کړې.
د دغې ليدنې په پيل کې د غور والي د ياد ولايت د اجتماعي، اقتصادي او امنيتي وضعيت ترڅنګ يې د خپلو فعاليتونو او کړنو راپور د رياست الوزراء اداري مرستيال ته ورکړی. ملا احمدشاه دين‌دوست ويلي؛ د اسلامي امارت سيمه ييز مسولين د امنيت د ټينګښت او خلکو ته د لازمو خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې تل هڅې کوي او د ولسونو د ستونزو د حل په موخه خپلې هيڅ راز هڅې نه دريغوي.نوموړي د مواصلاتي لارو د بيارغونې او جوړولو، د ښوونځيو د اعمار، د انکشافي پروژو پلي کېدل او د دې ولايت په بېلابېلو سيمو کې د روغتيايي مرکزونو رامنځته کېدو ته اسلامي امارت د ځانګړې پاملرنې غوښتنه کړې.د رياست الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي دوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ د غور ولايت د مسولينو کړنې او فعاليتونه ستايلي دي.د رياست الوزراء اداري مرستيال زياته کړې؛ د امنيت ټينګښت، د ټولنيزې هوساينې رامنځته کول او وطنوالو ته د لازمو اسانتياوو برابرول د اسلامي امارت له مسوليتونو څخه دي او لازمه ده، چې سيمه ييز مسولين په دې برخه کې لازياتې هڅې وکړي.مولوي عبد السلام حنفي د دوی وړانديزونو ته په اشارې ويلي، اسلامي امارت به د خپلو امکاناتو په پام کې نيولو سره دغې برخې ته رسيدنه وکړي.

## رويدادهای خارجی

### پاکستان بيا پور ته مخه کړې!!!




د پاکستان د مالي وزير محمد اورنګزيب ويلي، پلان لري چې د پيسو نړيوال صندوق څخه نور پور هم واخلي.
محمد اورنګزيب په اسلام اباد کې يوې خبري غونډې ته ويلي چې په اپرېل مياشت کې به د ياد بانک له چارواکو سره وګوري او هڅه کوي چې د پور له تر لاسه کولو سره د هېواد اقتصادي ثبات وساتي.
نوموړي دا نه ده روښانه کړې چې څومره پور به تر لاسه کړي، خو راپورونه وايي چې ښايي نوموړی به له ياد صندوق څخه اته ميليارده ډالره پور وغواړي.دا څرګندونې داسې مهال کېږي چې اوسمهال د پاکستان اقتصادي وضعيت تر بل هر وخت ډېر خراب دی.د راپورنو پر اساس؛ په دغه هېواد کې د انفلاسيون کچه ۴۰ فيصدو ته پورته ده.

### تاکيد گوترش بر باز شدن راه‌های انتقال کمک‌ها به غزه



آنتونيو گوترش، سرمنشی سازمان ملل متحد از اسرائيل خواست که راه‌ها را برای انتقال کمک‌های بشری به سراسر غزه باز کند. وی در سفرش به رفح در خاک مصر، يک‌بار ديگر خواستار برقراری آتش‌بس فوری در غزه شد.سرمنشی سازمان ملل متحد در حالی به رفح سفر کرده است که اسرائيل برای آغاز عمليات نظامی در اين شهر در خاک فلسطين، آمادگی گرفته است.اما سازمان ملل متحد با ابراز نگرانی از قحطی در غزه، گفته است که حمله اسرائيل بر اين شهر باعث افزايش تلفات غير نظاميان می‌شود.
اين در حالی است که از ماه اکتوبر سال جاری ميلادی به اينسو، بيش از ۳۲ هزار فلسطينی بشمول زنان و کودکان، در حمله‌های اسرائيل بر غزه جان باخته‌اند.

### ګڼ شمېر صهيونستانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د حماس غورځنګ نظامي برخې پرون يکشنبې خبر ورکړی، چې د اسرائيلي ځواکونو پر ټانکونو يې مرګوني بريدونه کړي، چې ښايي ګڼ شمېر صهيونست ځواکونه په کې وژل شوي وي.ورته وخت کې د اسرايلو پوځ ويلي، چې يو پوځي



يې غزه کې د مخامخ جګړې پر مهال وژل شوی دی.دغه راز اسرائيلو پرون د ۱۷۰ مې ورځې لپاره هم غزه کې د ملکي وګړو وژنې ته دوام ورکړی او تازه يې په رفح ښارګوټي او نورو سيمو کې د هوايي بريدونو په پايله کې لسګونه فلسطينيان شهيدان کړي او ټپيان کړي دي.دغو بريدونو کې ۱۹ تنه د بشري مرستو ترلاسه کوونکي شهيدان شوي او دغه راز په يو جلا بريد کې بيا د يوې کورنۍ شپږ غړي شهيدان شوي دي.

### د مسکو بريد؛
### پيښه کې ښکېلو کسانو اقرار کړی

مسکو کې د تېرې جمعې ورځې د ماښام په بريد کې د وژل شويو کسانو شمېر ۱۴۳ تنو ته پورته شوی او دغې پيښه کې ښکېلو نيول شويو کسانو هم اقرار کړی دی.
د روسيې سپوتنيک خبري اژانس له لوري په خپره شوې ويډيو کې يو نيول شوی، تورن کس وايي، چې د مارچ په ۴ مه نېټه له ترکيې څخه روسيې ته تللی وه او له يو بل کس سره د ټلګرام له لارې اشنا شوی دی. دغه کس زياته کړې، چې د بريد په مقابل کې ورسره د يو ميليون روبل پيسو د ورکړې خبره شوې، چې ۵ سوه زره يې ورکړل شوي او نورې يې پاتې دي.
د روسيې تحقيقاتي اداري ويلي، چې په دې اړه لا ډېرې څېړنې روانې دي.
ولسمشر ولاديمير پوتين ويلي، چې دغې پيښه ټول ښکېل کسان به په عادلانه توګه مجازات شي.





**توجه !**
ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذاريد!


### آغاز کار پنج بند ذخيروی آب در پکتيکا



وزارت آب و انرژی می‌گويد، کار ساخت پنج بند ذخيروی کوچک آب به ارزش مجموعی بيش از ۱۳ ميليون افغانی در ولايت پکتيکا، آغاز شده است.
اين وزارت با نشر خبرنامه‌ای ديروز از آغاز کار اين پنج پروژه، خبر داده است. بربنياد خبرنامه، اين بندهای کوچک آب در ... ص٤

### د فراه ښاروالۍ رياست عوايدو کې ۴۰ سلنه زياتوالی راغلی




د فراه د ښاروالۍ رياست مسوولين وايي، چې په تېر روان کال کې ۱۳۴ ميليونه ۳۸۳ زره ۹۴۴ افغانۍ عوايد راټول کړي دي.د فراه ښاروالۍ رياست مالي او اداري مسئول مولوي محمد يوسف «سجاد» د باختر آژانس خبريال ته وويل، چې د يادې ښاروالۍ په عوايدو کې په تېر کال کې د پخوا په پرتله ۴۰ سلنه زياتوالی چې د له بېلا بېلو ثابتو او غيرثابتو سرچينو څخه ۱۳۴ ميليونه ۳۸۳ زره ۹۴۴ افغانۍ عوايد راټول کړي چې ۹٦ ميليونه افغانۍ يې په پراختيايي پروژو لګولې دي.نوموړي له ټولو دولتي ادارو څخه پر وخت د صفايي د تحويلۍ غوښتنه وکړه او ويې ويل، که چېرې دولتي اداري پر وخت خپلې پيسې تحويلې نه کړي، نو د دې پرځای چې ښاريانو ته زياتې چوپړتياوې وړاندې شي، بلکې پيسې د دولت خزانې ته ځي چې بيا ځلې ايستل يې په اداري او نورو چارو کې ځنډ سبب ګرځي.
په ورته وخت کې د فراه ښاروال مولوي محمد ولي ادريس په ياد ولايت کې د ۹٦ ميليونه افغانيو په لګښت د ۱۷ پروژو د پلي ... ۳مخ

### ننګرهار پوهنتون کې څېړنيز مرکز جوړېږي



ننګرهار پوهنتون کې د لومړي ځل لپاره د ۱۵ ميليونه افغانيو په لګښت د يوه علمي څېړنيز مرکز د جوړېدو چارې پيل شوې دي.د باختر آژانس د خبرله مخې؛ ننګرهار پوهنتون کې د لومړي ځل لپاره د څېړنيز مرکز د جوړېدو چارې پيل شوې، چې په جوړېدو سره به يې د ساينسي او کرنې په برخو کې د زده کړيالانو ستونزې تر يوې اندازې حل شي.د دغه څېړنيز مرکز ودانۍ پر ۳۰۰ متره مربع ځمکه او ۳ پوړونو کې جوړېږي، چې لګښت يې د شهيد افسرخان کورنۍ له لوري ورکول کېږي.ورته مهال د شهيد افسر خان کورنۍ مشرحاجي بازمحمد افسرزي ويلي، چې د يادې ودانۍ ترجوړېدو وروسته به نورې ۵ ميليونه افغانۍ د څېړنيز مرکز په اړينو وسايلو هم ولګوي.

### کمر بند سبز در ساحه بند قرغه در حال توسعه است



رياست سرسبزی شاروالی کابل، در پيوند به کارزار نهالی شانی در شهرکابل، غرس هزاران نهال مثمر و غير مثمر را در کمر بند سبز ساحه بند قرغه آغاز کرده است.
به گزارش آژانس باختر؛ مولوی عبدالوکيل متوکل رييس سرسبزی شاروالی کابل، در اين رابطه گفت: به منظور توسعه سرسبزی و يافتن کابل خرم و زيبا، ... ص۳

### د پوهنې د لاپياوړتيا په هڅو ټينګار وشو

د ترکيې سفير او د افغان ترک ښوونځيو مسولينو د رسنيو او ځينو چارواکو په شتون کې روژه ماتی تيار کړ. غونډه کې د افغانستان د پوهنې ډګر د لاپياوړتيا په هڅو باندې ټينګار وشو؛ چې د افغان له لوري دې برخه کې له ترکيې څخه د ملاتړ غوښتنه وکړه او د ترکيې سفير هم ژمنه وکړه، چې د افغانستان په هره برخه کې به خپلې هڅې روانې ساتي.
دغو مراسمو ته په افغانستان کې د ترکيې سفير جينک اونال لومړی وينا وکړه، هغه و ويلې چې خوښ يم، چې په داسې کسانو(د افغان ترک زده کوونکو) په اړه غونډه ده چې د افغانستان او ترکيې هېواد ترمنځ د اړيکو پول تشکيلوي.
دهٔ و ويلې چې ترکيه او افغانستان يو له بل سره ښې اړيکې لري، ۳مخ

### زابل کې روږدو مېرمنو ته شل بستريز روغتون جوړ شو

د زابل د عامې روغتيا رياست مسوولينو د دغه ولايت کې په نشه يي توکو روږد مېرمنو لپاره د ۲۰ بستريز روغتون د جوړېد خبر ورکړی دی.د ياد ولايت د عامې روغتيا رييس ډاکټر ميرويس افغان د باختر آژانس سيمه ييز خبريال ته ويلي چې د دغه ولايت په مرکز کلات کې د هغو مېرمنو درملنې لپاره ۲۰ بستريز روغتون جوړ شوی، چې په کې د نشه يي توکو روږدو مېرمنو درملنه کېږي.د يادونې وړ ده، چې ياد روغتون په داسې حال کې پر فعاليت پيل کوي چې سلګونه په نشه يي توکو روږدي تر درملنې وروسته په دغه ولايت کې جوړ او له خپلو کورنيو سره يو ځای شوي دي.

### روز جهانی توبرکلوز؛ مرگ روزانه ۴۴۰۰ تن بر اثر اين بيماری



سازمان ملل متحد، به مناسبت روز جهانی بيماری توبرکلوز (سل) اعلام کرده است که روزانه نزديک به چهار هزار و ۴۰۰ تن در جهان در نتيجه‌ی ابتلا به سل جان‌شان را از دست می‌دهند.
اين رقم مرگ‌ومير مبتلايان به سل، آن را به کشنده‌ترين بيماری در جهان بدل می‌کند.سازمان ملل افزوده که اين بيماری توبرکلوز قابل پيش‌گيری و درمان است.
بر اساس گزارش سازمان جهانی بهداشت، در ۲۰۲۲ يک ميليون و ۳۰۰ هزار تن در سراسر جهان در نتيجه‌ی ابتلا به سل جان داده‌اند و اين بيماری پس از ويروس کرونا، دومين علت مرگ‌ومير افراد دانسته شده است. ص۳